

ترکیه
ادلب
دریای
مدیترانه
سوریه
لبنان
عراق
اردن

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان اسلامي امارت
# د علومو اکاډمي
# د بشري علومو معاونیت
# د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز
# د منځني ختیځ انسټیټوټ


# له بشارالاسد وروسته:

# د سوريې حالات

# فرصتونه او ننګوني

# د موضوع طرح

له ۱۹۷۱ز.کال څخه تر ۲۰۲۴ز.کال پورې د بشارالاسد او د هغه د پلار واکمني،
په ۲۰۱۱ز.کال عرب پسرلی پیل شو ، په سوریه کې  د بشارالاسد د رژیم پر ضد لاریونونه،
د بشارالاسد رژیم ملاتړي هېوادونه لرل، چې په سوریه کې یې بمبارۍ وکړې،
د بشارالاسد د رژیم په وړاندې نیابتي ډلې رامنځته شوې چې هغوی هم ملاتړي هېوادونه لرل،
د ۲۰۲۴ د ډسمبر ۸ په سوریه کې واک احمد شرع په لاس کې واخیست،




**د څېړنې موخه:** له ۲۰۲۴ز.کال نه وروسته په سوریه کې د نوي رژیم لپاره ننګوني او فرصتونه په ګوته کول او راتلونکی پیشبیني کول.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

دا چې سوریه درې لويې وچې اسیا، اروپا او افریقا سره نښلوي، نو هر ډول حالات یې په سیمه او منځني ختیځ اغېزې لري. په دې هېواد اوږدې جګړې تېرې شوې چې له ډېر وخت وروسته پکې فرصتونه رامنځته شوي، که څه هم ځینې ننګونې هم شتون لري، نو د سوریې له حالاتو خبراوی او هلته د فرصتونو او ننګونو پېژندل د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت روښانه کوي.

**د څېړنې پوښتنه:** له ۲۰۲۴ز.کال را وروسته د سوریې حالات څه ډول دي؟

**د څېړنې میتود:** کتابتوني او تحلیلي دی.

# له بشارالاسد وروسته د سوريې سياسي حالات

## ۱- نوي رژيم ته، سيمه ييز او نړيوال غبرگونونه

**د امريکا متحده ايالاتو، بريتانيا، فرانسې، اروپايي اتحاديې، ترکيې، قطر**

**وويل** چې په سوريه کې د نوي رژيم له مشرتابه سره مستقيم تماسونه لري او ژر به سوريې ته کاري ډلې وليږي.

---

**د سوريې لپاره د ايران سفارت:** دوی ته ډاډ ورکړل شوی، چې سفارت او زيارتونه به يې خوندي وي.

**د روسيې د بهرنيو چارو وزارت:** دوی ويلي چې په سوريه کې به خپلو چارو ته دوام ورکړي.

**کردي کورواکه اداره :** دوی ويلي چې په ټول هېواد کې د ټولو جگړو د پای ته رسولو غوښتنه کوي.

---

**خوښ هېوادونه:** امريکا، ترکيه، سعودي، قطر، ځينې اروپايي هېوادونه

**خفه هېوادونه:** روسيه، ايران، حزب‌الله


**محتاط هېوادونه:** مصر، اردن، عراق، چين

---

# ۲- د سوريې په نوي رژيم کې د ډلو او قومونو ونډه

| ډله، قوم | وزارتونه |
| --- | --- |
| هیيت تحريرالشام | د سوريې موقت ولسمشر - د داخلي وزير- د دفاع او استخباراتو وزير- د وزيرانو شورا اداري مشر- د محلي اداري وزير- د پراختيا وزير- د بهرنيو چارو وزير- د تحريرالشام اړوند دي. ۷ |
| د دروزو له قوم | د کرنې وزير |
| د ملي ايتلاف له اپوزيسيون | د اوقافو وزير |
| له علويانو | د ترانسپورټ وزير |
| له عيسويانو | د کار او ټولنيزو چارو وزيره، ښځه ده |
| له کردانو | د پوهنې وزير |
| د بېلا بېلو قومونو | د اسد رژيم ځينې وزيران هم پاتې دي |
| عرب وزيران | د عدليې، انرژئ، ماليې،روغتيا، کلتور،سياحت، ناورين مديريت، د ځوانانو او سپورټ وزيران عربان دي. ۸ |

# ۳- د سوریې د نوي رژیم بهرنۍ پالیسي



متوازن بهرنۍ سیاست،

د سیمه ییزو او نړیوالو هېوادونو سره تعامل،

د نړیوال مشروعیت ترلاسه کول،

د اقتصادي مرستو او پانګونو جلبول

له ترکیې، لبنان او اردن څخه د کډوالو راستنول

د سوریې اقتصادي رغونه،

کورنۍ ثبات رامنځته کول او نوی اساسي قانون جوړول،

د سوریې د نوي رژیم د بهرني سیاست مهم ټکي دي.

# ۴- اړیکې او سفرونه

احمد الشرع د ۲۰۲۵ ز.کال په اوږدو کې د څو هېوادونو رسمي سفرونه کړې دي.

| هېواد | سفرونه | هېواد | سفرونه |
|---|---|---|---|
| سعودي عربستان | (۳ سفرونه) | ذربایجان | (۱ سفر) |
| ترکیه | (۳ سفرونه) | مصر | (۱ سفر) |
| قطر | (۳ سفرونه) | فرانسه | (۱ سفر) |
| متحده امارات | (۲ سفرونه) | اردن | (۱ سفر) |
| متحده ایالات | (۲ سفرونه) | کویت | (۱ سفر) |
| بحرین | (۱ سفر) | روسیه | (۲ سفر) |
| برازیل | (۱ سفر) | | |

احمد الشرع د ۲۰۲۵ نومبر ۱۰ د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره په سپینه ماڼۍ کې لیدنه وکړه، چې له دې لیدنې وروسته یې په سوریه بندیزونه لیرې کړل.

# ۵- سوريې ته د نورو هېوادونو د استازو سفرونه

| هېواد | استازي |
| --- | --- |
| قطر | د قطر امير تميم بن حمد آل ثاني د سوريې پلازمېنې دمشق رسمي سفر کړی. |
| سعودي | د سعودي بهرنيو چارو وزير فيصل بن فرهان هم دمشق ته سفر کړی. |
| لبنان | د لبنان لومړي وزير نواف سلام سوريې ته رسمي سفر کړی. |
| روسيه | د روسيې لوړپوړو ډيپلوماتانو، دمشق ته رسمي سفر کړی. |
| امنيت شورا | د ملگرو ملتونو د امنيت شورا يو رسمي پلاوی سوريې ته د بشارالاسد د سقوط يوه کال وروسته سفر کړی او له نويو مسولينو سره يې کتنې کړې. |
| اروپايي اتحاديه | د اروپايي اتحاديې لوړپوړو چارواکو له اسد وروسته دمشق ته رسمي سفر ترسره کړی. |
| چين | چينايي چارواکو هم له سوريې چارواکو سره ملاقاتونه لرلي. |
| فرانسه | د بهرنيو چارو وزير په دمشق کې له احمد شرع سره وليدل. |
| جرمنی | د بهرنيو چارو وزير دمشق ته سفر وکړ. |

# د احمد الشرع د ځینو لیدنو تصویرونه








# له بشارالاسد وروسته د سوريې امنيتي حالات

له بشارالاسد وروسته، تر اوسه پورې په سوريه کې امنيتي حالات پيچلي، نيمه ثبات او له خطرونو ډک دي.

**۱- نسبي ثبات رامنځته شوی، خو لا هم نا امني ده،**

**۲- د اسد پلويان بغاوتونه او جګړې کوي،**

**۳- مذهبي او قومي شخړې جريان لري،**

**۴- وسله والې ډلې او د ترهګرۍ خطر لا هم شتون لري،** که څه هم ۲۳ داسې ډلې چې هره يوه يې له ۴۰۰۰ څخه تر ۵۵۰۰ جنګيالي لرل، له نوي رژيم سره يو ځای شوی، سوريه اوس ۱۷۰۰۰۰ پوځ لري.

**۵- کردۍ سيمې او شمال ختيځ،** ټول د دولت په واک کې نه دي،

**۶- جرمونه او قانوني کمزوري،** پخوانۍ جګړې، پخوانۍ وسلې د دې لامل شوي چې غلاوې وشي، خلک و ځورول شي او نور...

**۷- له احمد الشرع څخه د اسلامپالو نا رضايتي**

د بشارالاسد وروسته سوريه، د جګړې له وخت څخه ښه شوې، خو لا هم نيمه نا امنه ده، نه بشپړ امنيت لري - نه بشپړه کورنۍ جګړه ده.

## د سوریې امنیتي حالات دوام...

# په سوریه کې د وسله‌والو ډلو وضعیت

۱) **تحریر الشام:** یوه وسله‌واله ډله ده چې مخکې یې د القاعدې سره تړاو درلود وروسته یې خپل نوم بدل کړ او ځایي اهداف یې غوره کړل.

۲) **کُرد متحد ځواک:** یوه وسله‌واله ډله ده چې په شمالي او ختیځه سوریه کې واک لري. له حکومت سره د دې ډلې د یوځای کېدو هڅې دوام لري.

۳) **ترکیې ملاتړ خوځښت:** دا ډله د انتقالي حکومت د دفاع وزارت سره یو ځه ادغام شوې خو لا هم خپلواک فعالیتونه لري.

۴) **داعش ډله:** داعش تر ډېره خپله رول له لاسه ورکړی، خو اوس هم په سوریه کې د بریدونو او فعالیتونو لپاره کوښښ کوي. د ۲۰۲۵ ز.کال په ډسمبر کې یې امریکا او متحدین هدف وګرځول چې په وړاندې یې امریکا په سوریه کې د داعش مرکزونه په نښه کړل.

۵) **د سوریې د ازادۍ پوځ:** ټول له نوي رژیم سره نه دي یو ځای شوي،

۶) **د اسد د پخوانیو سرتېرو نوې ډله «د سوریې د ازادۍ پوځ»:** په ۲۰۲۵ ز.کال کې د پخواني رژیم یوه نوې وفاداره پوځي شورا جوړه شوه، چې د احمد شرع رژیم خلاف عملیات کوي.

۷) **حرکت القیام، جبهه ثوار سراقب، سرایا العرین، قوت سریا، سوریایي مقاومت، حراس الدین، سوریایي ملي اردو** دا ډلې هم په سوریه کې فعالې پاتې دي چې ځینې یې له دولت سره یو ځای شوې او ځینې نه دي. **د احمد الشرع حکومت تر اوسه ټول وسله‌وال ځواکونه نه دي متحد کړې.**



## د سوريې امنيتي حالات دوام...

# په سوريه کې د بهرنيو فکتورونو وضعيت

**۱- د ايران رول، کمزوری شوی :** د حزب‌الله اکمالاتي لارې زيانمنې شوې. ايران هڅه کوي چې له ځينو شيعه ډلو سره اړيکې وساتي، خو پخوانی ځواک نه لري. د اسد له پرځېدو سره په سيمه په ځانګړې توګه سوريه کې ايران ستراتيژيکه ماتې خوړلې.


**۲- د روسيې رول، شاتګ:** روسيه د اسد د رژيم پوځي ضامن و. اوس د خپلو پوځي اډو لکه (طرطوس، حميميم) د ساتلو هڅه کوي، د اوکراين د جګړې له امله يې په سوريه تمرکز کم شوی.


**۳- د ترکيې رول، ډېر فعال:** ترکيه د اسد سخت مخالفه وه. له نوي حکومت سره نږدې اړيکې لري. دا مهال ترکيه د سوريې له مهمو لوبغاړو څخه ده. ترکيه د سوريې په شمال او سرحدي سيمو کې اډې لري لکه: اعزاز- جرابلس- عفرين - تل ابيض - رأس العين

**۴- د امريکا رول، محتاط ملاتړ:** امريکا پخوا ۸ اډې لرلې اوس ۴ لري، د اسد مخالفه وه، غوښتل يې چې د خپلو ملګرو په مرسته د اسد رژيم و پرځوي او هلته د سيالانو رول کم کړي، اوس امريکا د سوريې ملاتړ کوي.

**۵- د اسراييل رول، امنيتي اندېښنه:** اسراييل د ايران د نفوذ سخت مخالف دي. غواړي په سوريه کې د ايران ډلې وځپي، د پخوا په پرتله اسرايلو ته د ايران او حزب‌الله ګواښ کم شوی، لا هم په سوريه کې هوايي بريدونه کوي او کوښښ کوي چې له سوريې سره له سره سرحد معلوم کړي.


SYRIA
Shaddadi
Conoco
Green Village
Al Tanf
IRA
g U.S. troops


Occupied Areas of Syria
Turkey
Iraq
Hasakah
Aleppo
Idlib
Raqqa
Latakia
Deir Ezzor
Hama
Tartous
Homs
Syria
Lebanon
Damascus
Quneitra
Israel
Daraa
Suwayda
Jordan
Oil Fields
Open Border Crossing
Closed Border Crossing
Major Military Base
Provincial Capital
Syria
US Occupation
Turkish Occupation
Israeli Occupation


ادلب
حلب
رقه
دیرالزور
حمص
مرز استان
دمشق
التنف
Etemaadonline.ir




# له بشارالاسد وروسته د سوريې اقتصادي حالات

**۱- بې روزګاري نهايي ډېره ده، ٪۹۰**

**د فقر کچه:** شاوخوا ٪۶۹ تر ٪۹۰ پورې،

**شدید فقر :** شاوخوا ٪۲۵ – ٪۳۰ پورې،

**د بیو لوړوالی:** ٪۹۰ ، ډېر شدید،




**۲- اقتصاد د فلج په حالت کې دی**

**۳- لا هم تحریمونه شتون لري،**

**۴- صادرات او واردات په ټیټه کچه کې دي**

**د سوريې مهم صادرات:**

غوړي / وچې مېوې / پنبه / سبزيجات / ډبرې، سمنټ / غنم / خام تيل

**دوی دا صادرات:** عراق، ايټاليا، جرمني، ترکيه، سعودي، اردن، مصر او هالنډ ته کوي.

**واردات:** سعودي، اردن، مصر، جرمني، عربي متحده ايالات، هند، چين، ترکيه.

# اقتصادي حالات دوام...

۲۰۱۱ کال د جګړې مخکې

د هېواد اقتصاد (GDP) شاوخوا ٦۰ میلیارد ډالر،

تېل، کرنه او صنعت فعال وو،
فابریکې او صادرات قوي وو،
خلکو عموماً عادي ژوند درلود،
د سوریې پونډ ارزښت ثابت و.
فقر کم و، شاوخوا ۲۰ ٪۳۰

۲۰۲۴ کال د اوږدې جګړې وروسته

اقتصاد (GDP) شاوخوا ۲۰ میلیارد ډالر یا تر دې کم،

کرنه او صنعت ډېر کم شوي،
فابریکې او زیربناوې ویجاړې شوې،
خلک له سختې لوږې سره مخ دي،
پونډ خپل ارزښت له لاسه ورکړی،
شاوخوا ٪۹۰ خلک بې وزله دي،

## د حکومت اقدامات او پلانونه

۱) کاري فرصتونه رامنځته کول
۲) کرنه او طبیعي منابع پیاوړي کول،
۳) د نفت او انرژۍ سکتور پیاوړتیا
۴) نړیوالې مرستې راجلبول،
۵) پانګه اچونه، زیربناوو ته پاملرنه
٦) د تیلو د کار خانو بېرته فعالول،

# له بشارالاسد وروسته
# د سوريې اجتماعي حالات



۱- سخت اقتصادي بحران،
۲- محدود خدمات،
۳- له جګړو د خلکو ستړيا،
۴- د بې ځايه شويو ستونزې،
۵- امنيت او وسله‌والې ستونزې،
٦- قبيلوي، مذهبي او سياسي تاوتريخوالی،
۷- د اقتصادي بيارغونې غوښتنې،
۸- د زده کړو او کار غوښتنې،
۹- مدني فعاليتونه، رسنۍ او ټولنيز بحثونه يوه اندازه زيات شوي،

# د اجتماعي عدالت غوښتنې او ځوابونه

## ۱- د خلکو مهمې غوښتنې

قومي، مذهبي او سیاسي برابری دې تأمین شي،

خپلواکه قضا دې رامنځته شي. امنیت او اقتصاد ښه شي،

په دولت کې دې د انحصار څخه مخنیوی وشي،

د کډوالو حقونه دې تضمین شي،

خلکو ته دې د جګړې د جرمونو او سرغړونو حساب ورکړل شي،

## ۲- د نوي رژیم ځوابونه

د برابریو د تامین لپاره یې نوی قانون تر کار لاندې دی،

ځانګړې استثنايي محکمې یې لغوه کړې،

له ولس سره د قانوني او اداري اصلاحاتو ژمنې شوې،

د کډوالو د راستنیدو لپاره یې یوه شورا رامنځته کړې،

د انتقالي عدالت کمیسیون یې رامنځته کړی، چې جنګي جرمونه به و څیړي،



# له بشارالاسد وروسته د سوريې لپاره فرصتونه او ننګونې



## الف: فرصتونه

١- د اساسي قانون جوړولو فرصت،
٢- بې طرفه بهرنۍ سياست يو فرصت،
٣- پانګونې ته زمينې، بهرنۍ مرستې راجلبول او بيا رغونه فرصت،
۴- د جګړې د پای فرصت، د کډوالو راستنيدو فرصت،
۵- له سيمه ييزو او نړيوالو هېوادونو سره د اړيکو د ټينګښت فرصت،
٦- نوې اردو جوړول، د مسلحو ډلو ادغام فرصت،

# ب: ننګونې



**۱- امنیتي ستونزې او وسله والې ډلې**،که څه هم په کمه کچه دي.

**۲- اقتصادي او بشري بحران،** دا ستره ننګونه ده، باید جدي پاملرنه ورته وشي.

**۳- د انتقالي عدالت ننګونه،**

**۴- کډوال او ستونزې يې،**

**۵- بې روزګاري،**

**٦- بهرني پوځونه او نفوذ،** د سورېې د بشپړ حاکمیت لپاره خنډ دي،

**۷- دا خلي اختلافات،**

# پایله

بشار الاسد له واکه لېري او پر ځای یې د ۲۰۲۴ د ډسمبر په ۸ احمد شرع واکمن شو، خو لا هم د سوریې وروستي امنیتي حالات پېچلي او حساس دي،

## د سوریې فعلي وضعیت

**۴- سیاسي وضعیت**، تر ۲۰۳۰ پورې ټاکنې او نوی قانون جوړول،
**۱- امنیتي وضعیت**، داخلي امنیت، سرحدي امنیت،
**۲- اقتصادي وضعیت**، په ټیټه کچه کې دی، د ښه کېدو هڅې یې روانې دي.
**۳- بشري او اجتماعي وضعیت**، په بد حالت کې دی،
**۵- داخلي اختلافات**، قومي او سیمه ییزې شخړې

**٦- له کلونو جګړې وروسته نوي بدلونونه**، خلک خوشبین دي




# پایله، دوام...

## د سوریې راتلونکې ۲ مهمې سناریوګانې

**نسبي ثبات (غوره سناریو):** که امنیت تر ډېره ټینګ شي، وسله‌والې ډلې منحل یا مدغم شي، ټولشموله سیاسي بهیر پیل شي، ټریوال مشروعیت زیات شي، بندیزونه نور هم کم شي. د دې په پایله کې جګړه نه ختمېږي، خو کنټرولېږي، اقتصاد ورو ورو رغېږي، کډوال بېرته سوریې ته ستنېږي. پدې سره موقت حکومت بریالی کېږي،

**بېرته کورنۍ جګړه (بده سناریو):** که په سوریه کې سیاسي اختلافات زور شي او ژر حل نشي، قومي او مذهبي شخړې راپورته شي او حل نشي، له وسله‌والو ډلو سره تفاهم ونشي بیا جګړې ته ستني شي، بهرني هېوادونه کنټرول نشي نیابتي جګړې پیل شي سوریه کورنۍ جګړې ته ننوځي او تجزیې ته نږدې کېږي.

# وړاندیزونه

**لومړی:** د سوریې اوسنی رژیم باید په خپل نوي قانون کې ټولو پاشلو قومونو، مذهبونو او ټولو سوریایانو ته ځای ورکړي، دا به سوریې ته په ټولو برخو کې ګټور تمام شي.

**دوهم:** سوریه یوازې په داخلي مشروعیت بسنه نه کوي، نړیوال تعامل، ډیپلوماتیک انعطاف او تدریجي اړیکې د سوریې لپاره مهمې بولي، ځکه د دې نشتون د اقتصادي او سیاسي انزوا سبب ګرځي، اسلامي امارت که هم همداسې وکړي ښایي سیمه ییزې او نړیوالې اړیکې یې پیاوړې شي او رسمیت پېژندنې ته لار پرانیزي.

**درییم:** د سوریې نوی رژیم کوښښ کوي چې خپل مخالف لوري د حکومت په اډانه کې شامل کړي او په دې سره بې روزګاري او نا امني ختمه کړي، که اسلامي امارت هم دا کار وکړي، ګټور به پریوځي.

# و من الله التوفيق

# له پاملرنې مو ډېره مننه!